# په لوګرکې دکتاب اوکتاب لوستلو اونۍ ولمانځل شوه

دلوګرداطلاعاتواوفرهنګ ریاست له لورې دکتاب اودکتاب لوستلو اونۍ دغوایي په ۲۲ مه ولمانځل شوه، په دې لمانځ غونډه کې لوګروالي محمدحلیم فدایي، داطلاعاتواوفرهنګ رئیس محمدشفیق پوپل ، دفرهنګ اوګرځندوی آمرجمعه الدین دراني، دعامه کتابتون مدیر عبدالاحمد فیضي، داطلاعاتواوفرهنګ ریاست کارکوونکي، دځیني دولتي ادارو رییسانو اویوشمیرځوانانو، شاعرانو او خبریالانو په دې لمانځغونډه کې ګډون کړی ؤ. دغه لمانځغونډه دخومبارکوآیتونو په تلاوت سره پیل شوه. محمدشفیق پوپل راغلو ګډونوالوته دښه راغلاست ویلو ترڅنګ دکتاب او کتاب لوستلو په اړه خبرې وکړې، دکتاب مینوالوته یې وویل چې ددوی پر مټ دلوګرعامه کتابتون جوړ شو او دکتاب لوستونکو لپاره دلوست زمینه برابره شوه، چې باید دکتاب هرمینه وال اولوستونکی وکولی شي یاد کتابتون ته مراجعه وکړي. ورپسې لوګروالي محمدحلیم فدایي؛ دکتاب لوستلو پراهمیت وینا واوروله، داطلاعاتو اوفرهنګ ریاست څخه مننه وي څرګنده کړه، چې په خپل توان یې دکتاب سپیڅلې ورځې لپاره په ډیرناڅیزامکاناتو باندې یاده ورځ ولمانځله. فدایي ځوانانوته دیوپیغام په ترڅ کې وویل، چې دکتاب لوستلو فرهنګ ټولنې ته وغزوي، ترڅوهرځوان دکتاب لوستلوباندې روږدی او معلوماتو باندې برلاسی پیداکړي. والي هم دخپل فرهنګي لاسته راوړنوپه اړه وویل، چې دیوه کال په لړکې ۷ ټوکه کتابونه خپاره کړي، چې په دې لنډو ورځوکې به ددې کتابونولپاره یوه ادبي ناسته جوړه شي.

ددې ورځې په ویاړ دلوګرڅوتنو تکړه او غښتلي شاعرانو خپل جوړکړي شعرونه په ډیر ښکلي غږ دغونډې ګډونوالو ته ولوستل. همدارنګه په دغه لمانځ غونډه کې دکتابونو نندارتون دسهار له نهه بجونه تر۵بجوپورې دکتاب مینوالو لپاره داطلاعاتو اوفرهنګ ریاست په تالارکې پرانستل شوي ؤ.



عبدالاحمد فیضي داطلاعاتواوفرهنګ ریاست دکتابتون مدیر وویل، په یادنندارتون کې څه باندې (۱۴۰۰۰) مختلف ټوکه کتابونه دکتاب مینوالو لپاره نندارې ته وړاندې شول، هغه زیاته کړه، په دې نندارتون کې داطلاعاتواوفرهنګ ریاست کتابونه سربیره د نیازي کتاب پلورنځي هم خپل(۴۰۰۰ ) کتابونه نندارې ته وړاندې کړي ؤ.

دلوګردعامه کتابتون مشر عبدالاحمد فیضي وویل، چې اوسمهال دلوګرپه عامه کتابتون کې(۱۴۰۰۰) ټوکه بیلابیل دیني، ټولنیز، ادبي، ساینسي، معلوماتي او نورکتابونه شته، چې دورځې پرمهال ۱۰۰ تنه مراجعین دکتاب لوستلوپاره راځي، چې ۳۰ سلنه یې نجونې دي. همدارنګه فیضي دعامه کتابتون ترڅنګ د لکن ښوونیزوړیامرکزیادونه هم وکړه، چې دیادمرکز زده کوونکي هم دزده کړو په پای کې دوی خپلې ستونزې په عامه کتابتون کې دکتابونوپه لوست اویا دکتاب پرووړلو حلولی شي.

پاتې دنه وي، چې لوګرعامه کتابتون پروسږکال داطلاعاتواوفرهنګ ریاست دچترلاندې په دوه جریبه ځمکه په یو پوړ کې په پاخه اواساسي توګه ورغول شو، چې دوه لوی دکتاب لوستلوصالونونه، پنځه کاري اداري او نورې آسانتیاوې لري.

## دمالي په برخه کې درې ورځنی ورکشاپ په لاره واچول شو

دلوګرداطلاعاتواوفرهنګ ریاست په تالارکې دمالي اوحساب ورکولو په برخه کې درې ورځنی ورکشاپ دغبرګولې په۲مه په لاره واچول شو، یاد ورکشاپ داطلاعاتواوفرهنګ ریاست دځوانانو مدیریت لخوا او د (ANCB) موسسې په مالي مرسته دلوګر د دولتي اداراتو ۲۵ تنونارینه اوښځینه مامورینوته جوړ شوی ؤ، چې پکې د ژورنال جوړولو، لیجرجوړولو او دمالي حساباتو په اړه موضوعات؛ دورکشاپ ګډونوالوته روزنه ورکړل شوه. محمدشفیق پوپل دورکشاپ دپرانیستې پرمهال وویل، چې دغه ورکشاپ دولتي مامورینوته چې دمالي په برخه کې کارکوي، ارزښتناک اوګټور تمامیږي، پوپل زیاته کړه، چې ماموریند ورکشاپ د روزنې په اخیستو په خپلو اداري کارونو کې ستونزې درلودې هغه به حل شي او



داداري کارونه به یې هم په سمه توګه پرمختګ وکړي.

د ورکشاپ په پای کې څوتنو ګډونوالو غوښتنه وکړه، چې ورته ورکشاپونه دولتي مامورینوته دزیات وخت لپاره په لاره واچول شي، ترڅو دوی په خپلو چاروکې برلاسې ووسي. دورکشاپ په پای کې په روزونکو تصدیق پاڼې هم وویشل شوې.

## تیم آزادی کلنگار مقام نخست را از آن خودکرد

دررقابت های فوتسال تحت نام همکاری مردم با پولیس در مرکز ولایت لوگر تاریخ به 28 ثور با قهرمانی تیم آزادی کلنگار پایان یافت. محفل که به



مناسبت توزیع جوایز ومدال ها با اشتراک محمدشفیق پوپل رییس اطلاعات وفرهنگ، سمونوال نثاراحمد عبدالرحیمزی آمر امنیت قوماندانی امنیه، سمونمل محمدفیروزمحرابی مدیرتعلیم وتربیه قوماندانی امنیه، ورزشکاران وجوانان در ریاست اطلاعات وفرهنگ ولایت لوگر تدویریافته بود.

نخست محمد یونس آهنگر مسوول ورزش زون جنوب صحبت نموده گفت، دورنهایی تورنمنت بهاری فوتسال تحت نام همکاری مردم با پولیس درجمنازیوم لودین با حضور داشت صد ها تن از تماشاچیان برگزار گردیدبود که تیم های آزادی کلنگار و عقابان به مصاف هم رفتند و درفرجام نتیجه به نفع تیم آزادی کلنگار رقم خورد و این تیم درمکان نخست قرارگرفت.

آهنگر افزود که دراین مسابقات دوازده تیم از مرکز و ولسوالی برکی برک اشتراک ورزیده بودند که ده روز دوام داشت.

سپس سمونوال نثاراحمد عبدالرحیمزی آمرامنیت قوماندانی امنیه لوگر همکاری مردم خصوصاً جوانان را بانیروهای امنیتی نهایت ارزنده خوانده افزود که ورزشکاران میتوانند درتامین امنیت نقش مهم ایفا نمایند.

محمد شفیق پوپل رییس اطلاعات وفرهنگ، ورزش را ضامن سلامتی ورشد فکری و جسمانی جوانان عنوان نموده گفت، باید جوانان دررشته های مختلف ورزشی توانائی های شان را تبارز دهند.

درپایان برای تیم های برنده اول و دوم تحایف نیز توزیع گردید. گفته میشود ، این رقابت ها از سوی سازمان انکشافی ورزش و جوانان و مدیریت عمومی امورجوانان ریاست اطلاعات وفرهنگ راه اندازی گردیده بود.

باختر

## پوهنې وزارت لوګرته پنځه پروژې منظورې کړې

دلوګردپوهنې ریاست ویاند محمدشاه پورعرب دجریدې مدیریت ته په رالیږلې خبرپاڼه کې ویلي دي، چې د لوګرد پوهنې ریاست د هلوځلو له امله د پوهنې وزارت پنځو ښوونځیو ته پنځه پروژې منظورې کړې دي.

په خبرپاڼه کې ویل شوي دي، چې دغه منظورې شوې پروژې ټول ټال ۱۸۲۱۸۹۸۸ افغانۍ ارزښت لري. چې دغه پروژې به د هوني سیدانو، شاه آغاسي کلاه، مهاجرینوښارګوټي، کاریزونو او شیرعلم ګنداب په ښوونځیو کې پلي شي.

په دغو منظور شویو پروژو کې د یاد شویو ښوونځیو ودانیو ته د احاطې دیوالونو او تشنابونو جوړول، د میزونو او څوکیو برابرول اودغه راز د څښاکو اوبو څاه ګانو کیندل شامل دي.

په خبرپاڼه کې ویل شوي، چې د پوهنې وزارت به په نږدې ورځو کې د لوګریو شمیر نورو ښوونځیو ته ورته نورې پروژې به هم منظورې کړي.

## د لوګرد بره کي برک د ښوونکو ښارګوټي تفصیلي پلان جوړ شو

دغبرګولي ۵ مه:

د لوګر د پوهنې ریاست د بره کي برک ولسوالۍ د ښوونکو ښارګوټي دجوړولو تفصیلي پلان جوړاو د دغه ریاست په واک کې ورکړل شو.

دپوهنې ریاست ویاند محمد شاه پورعرب په رالیږل شوي خبرپاڼه کې ویلي دي، چې دغه تفصیلي پلان د پوهنې او ښارجوړونې وزارتونو په ګډه سره جوړکړی او ورمه ورځ یې پوهنې ریاست ته رالیږلی دی.

په خبرپاڼه کې ویل شوي، چې د تفصیلي پلان له مخې به د بره کي برک د ښوونکو ښارګوټی په ۳۵۰ جریبه دولتي ځمکه کې جوړشي، چې د استوګنې کورونولپاره ۵۵۸ نمرې ولري.

دخپرپاڼې په حواله ویل شوي چې، ددغه ښارګوټي د ځمکې ټول قانوني مراحل بشپړشوي، چې د خط اچونې چارې به یې هم ډیرژر د ښارجوړونې وزارت د یوه تخنیکي ټیم له خوا پیل شي.

د ویلو وړده، چې له دې مخکې د خوښۍ د ښوونکو ښارګوټی پرانستل شو او دا مهال د محمدآغې ولسوالۍ د ښوونکود ښارګوټي د خط اچونې عملي چارې پیل شوي، چې تر پرانستل کیدو وروسته پرښوونکو وویشل شي.

# تیم تخت شاه قهرمان شد

در رقابت های کرکت که(تحت نام حمایت از نیروهای امنیتی) راه اندازی شده بود تیم تخت شاه قهرمان شد ، این تورنمنت که از سوی آمریت رادیو تلویزیون ملی لوگر بخاطر حمایت از نیروهای امنیتی میان 24 تیم راه اندازی گردیده بود درفرجام تیم تخت شاه توانست قهرمانی را از آن خود نماید.

محفل که به خاطر توزیع مدال ها وجوایز در مقام ولایت لوگربا اشترک محمد حلیم فدایی والی لوگر، سید قریب الله سادات ریس شورای ولایتی، محمد شفیق پوپل ریس اطلاعات وفرهنگ ،عدالت عبدالرحیمزی عضوشورای ولایتی، میرحیدر سیلاب آمر رادیو تلویزیون ملی، جوانان و ورزشکاران تدویر یافته بود ابتدا سید قریب الله سادات ریس شورای ولایتی لوگردرصحبت هایش برگزاری چنین مسابقات را در رشد ورزش کرکت نهایت مهم ارزنده وبارز تلقی کرد.



سپس محمد حلیم فدایی والی لوگر ضمن قدردانی از این اقدام نیک آمریت رادیو تلویزیون ملی لوگر افزود که حمایت از نیروهای امنیتی با راه اندازی تورنمنت ها دررشته های مختلف ورزشی، میتواند در تامین امنیت نقش بسزای را ادا نماید.

والی لوگر در سخنانش علاوه کرد که برای منسجم نمودن جوانان وبازیکنان کرکت یک پلان منظم روید ست دارد ووعده داد که دراداره کرکت بورد لوگر تغیرات مثبت را خواهد آورد ،آقای فدایی خبرداد که غرض رشد بیشتر ورزش کرکت یک تیم را تحت نام مقام ولایت لوگر ایجاد خواهد نمود.

سپس محمد شفیق پوپل رئیس اطلاعات فرهنگ در رابط به اهمیت ورزش برای جوانان صحبت های همه جانبه نمود و افزود ورزش کرکت همواره برای افغان ها مسروریت های زیاد را ببارآورده است وازبرکت بازیکنان کرکت بیرق ما با افتخاردرکشورهای مختلف به اهتزارآمده است،آقای پوپل ازجوانان که به ورزش کرکت علاقه دارند ،خواست که از طی دل سعی کنند تا باشد درآینده مثل قهرمانان تیم ملی کرکت افتخارات فراموش ناشندنی را برای افغانستان کسب نمایند.

قابل ذکر است که این مسابقات به تاریخ ۲۲ ماه ثور آغازگردید که پانزده روزدوام نمود ، درتورنمنت یادشده ۲۴ تیم ازمرکزوولسولی ها شرکت ورزیده بودند که درفاینل تیم تخت شاه برابرتیم کرکت رادیوتلویزیون ملی لوگرقرارگرفت وبا شکست این تیم مقام اول را ازآن خودنمود وتیم رادیوتلویزیون به جایگاه دوم وتیم مجاهد وطنوال به درجه سوم نایل آمد.

والی لوگرغرض رشد وتشویق بیشتربازیکنان کرکت،به مقام اول مبلغ بیست هزار افغانی برای مقام دوم مبلغ پانزده هزار وبرای مقام سوم مبلغ ده هزار افغانی پول نقد توزیع نمود.

باختر